**دمقالې ليکونکې: پيپې سکوبار«Pepe Scobar»**

***منبع او دخپرېدو نېټه (انفارميشن کليرنګ هوز«۲۰۱۶-۸-۲۴)***

***ژباړونکې : پوهندوی دوکتور سيدحسا م «مل» .***

-------------------------------------------------------------

## *دروسيې – ايران د ستراتيژيکې لوبې بدليد نه*

*the Russia – Iran strategic game changer*

***انفارميشن کليرنګ هوز:*** *دروسيې(TU22MS)* ترشاغورځونکي بمب اوهمدارنګه *درويسې جوړکړشوی سوخوی (sukhoi 34) بمب غورځونکي الوتکي چې د ايران* ***دهمدان*** *له هوای او نظامې ډګر څخه په سوريه کې پر جها دې ډلو تپلو او پرمينخ لارې شورشيا نوباندې بمونه وغورځول مونږ. ته بې له ځنډه ديوسترنه اتکل شوی جيوپوليتيکې لوبې د بدلون زيرې راکوی .*




*تيرشوی او مخکينې سوابق داسې راښيي چې دروسيې اوسنې نظا مې موجوديت له (۱۹۴۶) کال څخه راهيسې په ايران کې اوبيا د (۱۹۷۹) کال دايران د اسلامې انقلاب څخه دالمړې ځل دې چې ايران روسيې ته اجازه ورکوی چې دهغه د خاورې څخه د له ننه په ګټه اخيستو سره خپل نظا مې عمليا تونه ترسره کړي.*

*حالات او شرايط کولای شي چې پنتاګون په يو غير اټکلني (ورانيديز) بڼې سره لکه ديوډلې قهرجن نازپرورده ځوانانوپه څيرپه وسواس اوابوالهوسې کې واچوي بلکه هغوی ناهيلې نه دې چې دروسيې د مخکينې خبرتيا څخه په سرتکونې سره روسيې ته کافې او پوره وخت ورکړې چې د نړي په نورو برخو باندې تيرې وکړې اوبيا په تيره داچي اجازه ورکړې چې دايران داخوندانوسره په همغږې اوهم لاسې سره خپل اهداف تر سره کړي اويا داچي واشنګتن دې ته مجبور کړې چې دملګروملتونو دامنيت شورا ته دايران دلاسه شکايت وکړې چې هغه هيواد دملګرو ملتونو دامنيت شورا دپريکړې او د قطعنامو څخه سرغړونه کوي ؟*

*با لمقابل دروسيې چرخش(غبرګون) دپنتاګون دګوابښ په مقابل کې ښکلې او ډير په زړه پورې دې او هغه داچي ښاغلې* ***ولاديميرکمويودوف*** *(Vladimir Komoyedov)*

اميرالبحر«دريا سالار»  ددولتی دوما ( روسيی پارلمان ) د مالی دڅا نګی مشراودتوری بحيری دسمندر  پخوانی  قوماندان  دروسيی دجنګی الوتکو دعملياتونود کار د ميتود  په اړين  په  ډير زړه پوری بني  سره  په لاندی توګه توضيحات  وړاندی کړ:

« دروسيي دجنګی الوتکو پرواز ترسوريي پوری د ځانګړی عمليا تونود سرته رسولو د پاره  دروسيي داروپايی  تم ځای او اډی څخه الوتل د ما لی لګښت  له پلوه ګران  اوهم داوږدی واټن په وهلو سره ډيروخت نيسي نو دهمدی دليل په نظرکی نيولو سره دروسيي دنظامی  فعاليتونو دسرته رسيدو دپاره  دغه لمړيتوب  (اولويت)  زمونږ دهوايی  قوتونو دپاره  ډير مساعد ښکاری  - اوهغه داچي  مونږ نه بايد  دروسيی ددفاع دوزارت  دتعين کړل شوی  بودجی څخه  زيات  پيسی  د (TU22S) اوتکی دالوتلو د پاره  ولګوو نو  که دهمدی اصل په نظرکی نيولو سره  دغه بمب غورځونکی (Tu22S)   الوتکی  دايران له همدان هوايی ډګر څخه  دعملياتونو دسرته رسولو دپاره والوزی نو په دی  صورت کی له يوی خوا  په اقتصادی لحاظ دالوتکی  د سونګ موادو په  مصرف  کی   به کمي راشي اودبلی خوا الوتکی به وشی کړلی چي زيات  بار  اوپيټی   په آسا نی  سره ترخپل هد ف پوری ورسوی  يا منتقل کړی  اوروسيی ته  په هيڅ  بڼی سره داسی  يو دوست هيواد به پيدانشی  چی دبشپړ امنيت له  امله  نړی په دی کړکيچنه   ساحه کی  ځا نګړی عمليا تی الوتنی تر سره کړی  هغسی عملياتونه کوم چی مونږ غواړو دغه  روانه جګړی ته دپای ټکي کيږدو .  اوداځکه چی  په سوری کی  دامنيت  دنشتوالی  له امله   دنوموړی ساحی دپاسه  دسوريی له هوايی نظامی ډګرونو څخه په کار اخيستو الوتنی تر سره شي . »

**دشا نګهای  دګډی مرستي دسا زمان (SCO) څخه  دنه هم کا سه کيد و څخه ډډه کول .**

نو وروسته له هر څه نه دا به واشنګټن وی چی ټول شيک پوش  او په نوی جامو سره اراسته کسان په اسرايل کی قهرجن صيهونيست اسرايليان په سعودی عرب کی متعاصب وهابيان به د ژړا اواويلا څخه چی دايران دموجوده تهد يد اخرالزما نی داندازی  څخه په ويره کی دی د تربود بد لون دپيژندل شوی آلی(يوه دستګاه دی کوم چی د موترمستريا ن دهغه پواشطه سره د موتر د ماشين  څخه د هغه ګا زرا باسی  او بيا د هغه پر ځای  هوا د موتر په ماشين کی ورننه باسی چی د موترما شين ته  زيات قوت ورکړی ) دکاروړلو په وسيله سره  خوندی وسا تي . اما  دلته  يوه خبره  چی د ذ کر وړ دی نو هغه د ايران دمشهور ضرب المثل  په نظر کی نيولو سره  دادی چي په آسمان کی دغه  (حقا يق ) ته چا نشی تغير ورکولی  - اوبيا  په ځانګړی بڼی سره که چيری  هغوی  په دی جګړه کی دبشپړ بريالیتوب د پاره د حلب ختيځ لاری خلاصه کړی   نوبيا هغه خارجی قوتونه کوم چی  پرسوريی باندی داخلی جګړه تپلی دی  نو دغه جګړه به هم ختم شی اويا څنګه ؟

**علی شمخا نی**  دايران دملی امنيت د شورا  ريس  پخپل يو خبری  ناسته  کي  وويل چی دلته دهيڅ کوم غلطی  اويا د اشتباه موضوع  په  مينځ کی نشته  اوټول شيا ن  ددی

*ځرګندوی دی چې دروسیی اودایران ترمینځ ګډ ستراتیژیکی مرستی په واقیعت کې دتروریزم ، اسلامی دولت اود داعش سره ریښتنی جګړه او مبارزه دی اونه داچې غربی تړلی رسنې پرمونږ با ندی پړی اچوی چې ایران دلوی نظامی قدرت په دارایی (شتمنې) باندی اغوښتی دې .*

*دبلی خوا څخه دعراق لمړی وزیر ښاغلي حید ر ال عبادی (Haider Al Abadi) پخپل وارسره داسی تاکیدی ځرګندونه وکړاوهغه داچې هغه به ډاګه کړ چې **ما** دروسیی بمب غورځونکی الوتکو ته اجازه ورکړ چې دعراق دخاوری دپاسه په سوریه کی دخپل جنګی هوایی عملیاتون دسرته رسولو دپاره والوزی اوداځکه چې مونږ ته په دی مورد کی پوره اوکره معلومات ترلاسه شوی دی او هغه داچې د وی یعنی د روسیی هوایی قوتونه دسوریی په عامه اوملکی خلکو باندی بمونه نه غورځوی یعنی دسوریی دملکی خلکو د تلفاتو څخه پوره مخنیوی کوي .*

*دلته دبغداد دپاره دغه رمز (کود) کوم چې په ورین تندی او بشپړ خون سردی سره روسیی ته اجازه ورکوی چې د هغه هیواد د هوایی حریم څخه په ګټه اخیستو سره خپل بمب غورځونکی (TU22M3) الوتکی والوزوی نو په دوهم قدم کی دابه حتمی او روښانه وی چې روسیه به له کسپین سمندر څخه له خپل نظامی اډی څخه خپل دکروز توغندی دسوري په لور دسوریی ددولت دمخالفینو دځپلو دپاره دایران اودعراق دهوایی حریم په ګټه اخیستو سره تر سره نکړی اودسوریی دشورشیانو کمربند اوکلا بندی دړی وړی نکړی .*

***دلته یو څه زیا ت اوبیا هم ځنی نور زیا ت شیان** : د مسکو اود د مشق د (۲۰۱۵) کا ل دموافقی پر بنیا دخیامیم (Khmeimim) هوایی ډګرپه ختیځ مدیترانه کی به دروسیی په یو تلپاتي نظا می اډی با ندی بدل شی .*

*دبلی خوا څخه پکن او د مشق دی موافقی ته رسید لی چې چین خپل بشری مرستی سوریی سره کوی اوهم دسوریی سره خپل نظامی اړیکي لاپسی نژدی کوی او د چین د نظامی ماهرانو پواسطه سره دسوریی نظامیانوته به تعلیم اوزده کړی هم ورکول کیږی .*

*پکن اوس اوس دیو کلیدی دلیل په نظرکی نیولو سره کوم چې دهغه هیواد دملی امنیت د استحکام موضوع دی دسوریی په روانو حالاتو کی له مجبوری څخه دخیل او ککړ دي اوهغه داچې په سلونو **ایغوریان** د **ابو محمد ال جیولانی** (Abu Muhammad Julanie) ترسرمشری لاندی دداعش په لیکو کی په سړی وژلو مصروف دی او دهغوی مشر **ابو محمد ال جیولانی** د سوریی دالفتح د نظا می په کمربند کی یو پیژندل شوی دقدر وړ سړی دی نو د چین تشویش په دی کی دي چې ممکن یوه ورځ دغه سړی وژونکي انسا ن به د خپل پیروانو سره بیرته د سین کیا نګ ولایت ته د جهاد دپاره بیرته راستون شی اود چین د پاره امنیتي سرخوږی را مینځته کړي .*

اوس نو دلته دمینځنی ختیځ د مطالعاتو دځانگی استاد دشانگهای دبین المللی مطالعات په پوهنتون کی پروفیسور **سوهیو وایمنګ** (Zhao Weiming) کلوبا ل تا یمز ته په یو ځرګندونه کی داسی وویل : دلته اوس دخوړلو د پاره په کیک کی ډیر خوندوره اومزه دار ګیلاس ځای پر ځای شوی دي اوهغه داچي پکن په سوریه کی دنوی قدرت دترلاسه کولو لوبه پیل کړی چی دا پخپله د چین په جنوبی سیند (بحر) کی د پنتا ګون دپاره بیا له سره دلاس وهنی زمینه برا بروي .

**اوس هیلاری څه باید وکړي ؟** پورتنی پوښتنی یا د شوی ټکي سړی ته یو نوی لړلید بحثبی یا ورکوی اوهغه داچي یو سپین فیل په یوه کوټه کی ځاي پر ځای کول دی کوم چي اوس دشا نگهای دګډی همکاریو سازمان (SCO) د راکړی ورکړی یو نوی مفهوم خپله کړي .

د (4+1) هیوادونه ( روسیه ،ایران ، عراق ، سوریه جمع حزب الله ) پخبل مینځ کی په ونډه اخیستو سره خپل موافقی په عملیاتی روند او پروسه کی سره چي تیر کال پکار پیل کړی دی وښودل اودوی دی پریکړی ته ورسید چی ددی عملیاتی روند مرکز دی په بغداد کی مستقر شی – نحلیل کونکی لکه الیستر کوک (Alistair Cooke) اوزه پخپله دشانگهای دګډ مرستو دسازمان (SCO) دکړنی امبریو (جنین – نطفه) پخپلو سترګو مو ولید اومونږ ته داسی راښکا ره شو چی دغه سازما ن غواړی چی **د نا تو** دامپریالیزم د(بشر دوستا نه ) ځای نا ستی وګرځی اویا د **نا تو** په الترنتیف با ندی واوړي اوپه دی ډول سره رژیم بد له شي. اودا پخپله داسی ښیی چي دا لمړی ځل دی چي (ناتو) نور پخبل سره نشی کولای اویا دا آزادی په لاس کی نه لری چی دنړي په هر ګو ټ کی چي څه یي زړه وغواړی همغسی وکړي –دبلی خوا څخه حتی روسیه اوچین چی دشانگهای دګډ و همکاریودسازمان (SCO) فعال غړی دي اوپه دی سازمان کی ایران دناظر په بنه ګډون کوی بی دایران دحکومت دغوښتنی څخه پرته دسا زمان هیڅ یو غړی نشی کولای چي پخپل سره دا یران د دولت دمخا لفینو سره په جګړه کی اخته شي نوددی ویلو سره داسی مفهوم تر لاسه کوو چی د بدلون یا درژیم دتغیر موضوع لا پخپل ځای کی دیو هدف په بڼه پا تی دی - نو په اوسنی وخت کی دیو رغنده سیاسیي واقیعت په نظر کی نیولوسره ویلی شو چی دځمکي پرمخ دتغیر اودبدلون مساعد شرایط راڅرګنده شوی دي .

اوس د وربینمینو نوی لاری د یو نوی واریا نت ( متبادل) په بڼه یا د وربینمین نوی لار ؟ چي په دی پروژه کی روسیه ، ایران ، عراق اوسوریه شامل دی په ریښتین بڼی سره سلفی جهادیزم تر هد ف لاندی پریوتی یا تر نظر لاندی نیول شوی دی اوداپه دی مفهوم چي یوځل بیا د ایروآسیا (EuroAsia) دادغام موضوع دیو رغنده هدف په بڼه دچین اود روسیی دشانګهای دګډو همکاریو دسازمان دفعالو غړو دکار په اجندا کي ځای پر ځای کیږي – اوهغه داچي دغه دواړه هیوادونه په دی هڅه اواند کی دی چي

په نوی راتلونکی کال کی ایران ته دشا نګهای د ګډو همکاریو په سازمان کی داصلی غړیتوب کارت یا شنا سنامه ورکړی او دا په دی مفهوم چی دغه دواړه هیوادونه دایران په اهمیت کوم چی دهغوی سره په ګډه ستراتژیکی ملګری شی ښه پوهیږی چی هغوی ته د نا تو سره په مبارزه اوجګړه کي یو بی جوړه دارا یی اوشتمنی دی . او همدارنګه دوی هیڅکله هم نه غواړی چي سوریه د لیبی په شا ن دړی وړی شی دوی په ګډه سره غواړی چی دروسیی سترا تیژی په کریمیا اوپه سوریه کی په موازی بڼی سره پلی شي کوم چی دهغه جزیات دچین په پوهنتونونو کی ورباندی مفصل خبری اتری کیږی .

**دایروآسیا او دشا نګهای د ګډوهمکا ریو د سازمان سره په تتدریجی بڼی ادغام :**

سره له هغه چی تل ابیب اوریاض دخپل واشنګتن په پراخه پلوی او طرفداری باندی ډیرډه لګولی دی مګر بیاهم دروسیی اود ایران ددوه اړخیزو امنیتی مرستو د توافق په اړه **نا تو** اودنا تو څخه لا زیا ت **«هیلاری کلنتون»** دجګړی ملکی (Queen of war) ته ویره رامینځته کړی دي .

دلته اوس داسی په نظر راځی چي «هیلاری کلنتون » دخپل زمامداری په وخت کی به پر اسد باندی هومره فشا ر واچوی لکه چي پرمعمرالقذافی با ندی دخپل با ند نی وزارت د ما موریت په موده کی واچوله نود همدی اصل په نظر کی نیولو سره هغه به پنتاګون وهڅوی چی د سوریی په شمال کی د نه پرواز (منطقه پرواز ممنوع) منطقه ایجاد کړی اود سوریی (شورشیان) په ډیرمخکی تللی فنی سلطنتی سلاحګا نو سره ( هوایی جنګی کشتی او او ډیر مخکی تللی تکنالوژیکی سلاح ګا نی) تسلیخ او و جمتو کړی .

په کال (۲۰۰۸) کی دامریکی دمتحده ایالاتو دانتخاباتی مبارزاتو په موده کی کوم چی په واشنګټن کی داسرایل اود امریکی دمتحده ایالاتو دعمومی اړیکو د کمیټی کنفرانس دایرشوی وه ما دکنفرانس له مینځ څخه د(هیلاری کلینتون) څخه داسی یوه پوښتنه وکړ : ایا تاسی داحتمالاتو اود یولړ غلط اوناسم وړاندی وینو سره چی ایران پر اسرایل باندی یرغل کوی دیوډول ډار او وویری سره مخا مخ نه یاستی ؟ هیلاری ځما په ځواب کی وویل :که چیری زه په دغه انتخا با توکی بریالی شم او دامریکی دمتحده ایالاتود جمهور ریس په صفت قدرت تر لاسه کړم په ایران باندی یرغل وروړم اوهغه داچي که چیری ایرانیان په احمقانه بڼی سره وروسته له لسو راتلونکی کلونو وغواړی چي پراسرایل باندی تجاوز وکړی دابه ډیر ښه وی چی مونږ دخپل پوره قدرت په لرلو سره ایران بلکل له مینځه ویسو .

***اوس واقعاً اوپه ریښتیا نی بڼی سره د اسی ښکا ری چي د روسیی او د ایران نژدی ستراتیژیکی ګډی مرستی اودشا نګهای د ګډی همکاریو د سا زمان په حال د ودی ادغا م سره (هیلاری کلنتون ) دی پیراو ته رسولي چي د جګړی دملکی ( Queen of***

War) لقب تر لاسه کړی.

------------------------------- په درناوی ۲۷-۸-۲۰۱۶